(وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ: الآیه)

# اسانه طریقه

# دقرآن مجید دحفظ

## مختصر تالیف

ابوعطاء المنعم رضاء الله بن الحاج خان بادشاه
حفظه الله من کل شرٍّ و آفةٍ

(اسانه طریقه د حفظ د قرآن کریم)

بهترینه طریقه د حفظ د قرآن مجید

الحمد لله :والصَّلَاة والسَّلَام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين اَمَّا بعد؛يقينًا حفظ دقرآن کریم یوه لویه خزانه ده چې کوشش کونکښې دیته مخکښې کیږي داقرآن بغیرد ذهن نه نه یادیږي ذهانت په دوه قسمه باندې دے یو ذهانت وهبي دے یعني چې دالله سُبُحَانَهُ وَتَعَالیٰ د طرف نه وي اودویم قسم اکتسابي دے یعني چې په خپل محنت سره حاصل شي په حقیقت کښې داهم د الله سُبُحَانَهُ وَتَعَالیٰ د طرف نه بالواسطه ورکړه ده، اولنےقسم د انسان په وس کښې نه دے لیکن د دویم قسم ذهانت حاصلول ممکن دي۔داقرآن په کوشش سره حاصیږي او بل ددې د حفظ دپاره مختلف اهم قاعدې بیان شوي دي چې ددې اجمالي فهرست دادے.

اوله قاعدي...د اخلاص اهمیت

دویمه قاعده...په کم عمرۍ کښې د حفظ اهمیت

دریمه قاعده...د حفظ دپاره د وخت انتخاب

څلورمه قاعده...د حفظ دپاره د ځاے انتخاب

پنځمه قاعده...په ښائسته آوازباندې د قرآن قرائت

شپږمه قاعده...د قرآن کریم د یوچاپ انتخاب کول

اوومه قاعده...د قرآن د حفظ نه مخکښې د تلفظ صحیح والے

اتمه قاعده...د مضبوط حفظ دپاره د آیاتونو د ربط والا عمل

نهمه قاعده...د بار بار اړولو والاعمل د نوي حفظ دضائع کیدونه د بچیدلو دپاره امداد کوي

لسمه قاعده...په مرتّب انداز کښې هره ورځ د حفظ اهتمام

یوولسمه قاعده...په دمه دمه باندي پوخ حفظ کول، د جلدوالي نه بهتر دے

دولسمه قاعده...په متشابهاتو باندې توجّه کول د حفظ مشکلات ختموي

دیارلسمه قاعده...د استاذسره د جور تعلق ضرورت

څوارلسمه قاعده...د حفظ په دوران کښې د اٰیاتونو په رسم باندې کامله توجّه کول

پنځلسمه قاعده...د قراٰن د حفظ سره د نیک عمل اهتمام کول

شپاړمه قاعده...د منزل مربوط اړول د پوخوالي ذریعه ده

اوولسمه قاعده...د معنیٰ په پوهیدلو باندې ویل د حفظ دپاره معاون دې

اتلسمه قاعده...د قراٰن د حفظ دپاره ریشتوني مینه اومظبوط حرکت کول

نورلسمه قاعده...په دعااوذکرِ الٰهي سره د الله سُبُحَانَهُ وَتَعَالیٰ په در کښې فریاد کول۔

په دغه طریقو باندې عمل کول او ددې سره سره به دا طریقې هم په مختصرا نداز سره بیان کوو (۱) خپل ځان تیارول (۲) په خپل ځان کښې جوش او جزبه پیدا کول

(۳) په یو ځائے باندې کېناستل (۴) بار بار اٰیت اړول (۵) د مخکښنې اٰیت سره ربط قائمول۔

بله خبره داده چې د قراٰن سره مینه او محبَّت دا د مسلمان فریضه ده او د مینې اظهار به هله کېږي چې دا په حفظ باندې یادشي او بیا په دې باندې عمل وکړے شي ځکه چې دا د الله کلام دے چې د قیامت په ورځ به ددې صاحب له سفارش کوی او بې شکه د قراٰن د یادولو مختلف طریقې دي چې ددې فضائلو ته رسیدل کښېږی او په تا باندې یوه اسانه طریقه لازمه ده چې دا په جلد یادولو او ښه یادولو کښې ممتازه ده او دا طریقه د مثال سره په یو مخ د سُوْرَةُ البقره کښې واضح کوو.

**(۱)(اول اودویم اٰیت شل ۲۰ ځله په حفظ تلاوة کړه)۔** (الم (۱) ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (۲)

**(۲) دریم اٰیت شل ځله په حفظ تلاوة کړه)۔** ( الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (۳)

(۳) څلورم اٰيت شل ځل په حفظ تلاوة كړه) وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ
وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (۴)

(۴) پنځم اٰيت شل ځله په حفظ تلاوة كړه). أُولَئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ
وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(۵)

(۵) دا پنځه واړه آياتونه د اول نه تر آخره پورى شل زله په حفظ تلاوة كړه
د دې په منځ كښې د ربط دپاره

(٦): شپږم ايت شل ځله په حفظ تلاوة كړه. (إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ
أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٦).

(۷) اووم ايت شل ځله په حفظ تلاوة كړه. (خَتَمَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَعَلَى
سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (۷)

(۸) اتم ايت شل ځله په حفظ تلاوة كړه. (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ
وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ (۸)
(۹) نهم ايت شل ځله په حفظ تلاوة كړه. (يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا
يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ (۹)

(۱۰) د پنځم ۵ ایت نه ترنهم ۹ ایته پوری شل ځله په حفظ تلاوة کړه، په مینځ د دیکښې د ترون دپاره۔

(۱۱) د اول ایت نه تر نهم اُیت پوری شل ځله په حفظ تلاوة کړه چې دا مخ ښه یادشي او دغه رنګې طریقه په هر مخ کښې په ټول قرآن کښې لازم کړه او په یوه ورځ کښې دنیم پاونه زیات مه یادوه د دی دپاره چې یاد شوی سبق دربا ندی ګډوډ نشی ـ

سوال :کله چې د نوی مخ یادولو اراده وکړم نو صباله به څه کوم؟

جواب:کله چې ته په راروانه ورځ اراده وکښې د بل مخ ،ددینه مخکښې چه ته نوے مخ یاد کښې په هغه طریقه چې مادرته ذکر کړه نو اول به د ابتدانه په حفظ باندې تر اُخره پوری شل کرته اولولی د دی دپاره چې سبق ښه یاد شی بیا به انتقال اوکښې حفظ کولو د نوی مخ ته په هغه طریقه چه ماورته اشاره وکړه.

سوال: زه به دوراوحفظ څنګه جمع کړم؟

جواب:حفظ نه پښېږي مګر په دور سره او چا چې بغیرد دورنه ټول قرآن یاد کړے دے او دویم ځل هغه سبق ته اراده لري چې دی یاد کړےوی

نوخپل زان به کمزورے بیا مومی چې څه ئې یاد کړی وی نو هغه به هم هیر کړي، بهترینه طریقه داده چې ته د قرآن او د دور په منځ کښې جمعه والی وکړي نو دابه د لا ندی شرطونوپه تعبداری بأندې وي .

(۱) قرآن دری۳تقسیمه کړه هري لس سپاری یوحصه شوه .

(۱)اولۀ حصه د سُوْرَةَ النَّاس نه د سُّورَةُ العنکبوت پوری .

(۲) دویمه حصه د سُوْرَةَ القصص نه د سُوْرَةَ یونس پوری .

(۳) دریمه حصه د سُوْرَةَ توبه نه تر د سُوْرَةَ البقرة پوری .

(۲): کله چې ته په ورځ کښې یو مخ یاد کړے نو هره ورځ څلور مخه تلاوة کوه تر دی چې ته لس سپاری یادی کړی نو کله چې تا لس سپاری داولی حصی یادی کړی د سُوْرَةَ النَّاس نه ترسورة العنکبوت پوری نو پوره یوه میاشت به ددې د یادولوپوری اودریګی اونوے سبق به نه وائی اوهره ورځ به اته مخه تلاوة کوی.

(۳): د یوي میاشتې دتلاوت نه روسته به د خپل وس مطابق باقي یومخ یادوه مخه حفظ همیشه کوی او اته مخه به د اولی حصی یعني د سُوْرَةَ النَّاس

نه د سُوْرَة العنکبوت پوري تلاوة کوي تر دی چه دویمه حصه د قرآن د سورة القصص نه تر سُوْرَة یونس یاده کړي .

(۴) :کله چې دی دویمه حصه یادة کړه نواوس به دوه میاشتي د حفظ نه ددې شلوسپارود اړولودپاره ودریږي،او د سُوْرَة الناس نه د سُوْرَة التوبه پوری هره ورځ به پدیکښې اته مخه تلاوة کوی .

(۵) :کله چې دوه میاشتې په تلاوةتیری شوی نواوس به شروع اوکړی د دریمي حصي په یادولو باندې یعني د سُوْرَة یونس نه تر سُوْرَة البقرةپوری، هره ورځ به دخپل وس مطابق یو مخ او یا دوه مخه اړوي او اته مخه به تلاوة کوی د سُوْرَة الناس نه ترسورة التوبه پوری تر دی پوري چې ته به قرآن مکمل حفظ کړي.

(۶):کله چه ته د قرآن مکمل حفظ اوکښې نو داولی حصی دور به پوره یوه میاشت هره ورځ نیمه سپاره د سورة الناس نه د سورة العنکبوت پوری وکړي۔

(۷): اوس به منځنو لسوسپاروته انتقال وکړی د دوردیادولو دپاره یعني د سُوْرَة القصص نه تر سُوْرَة یونس پوری اویوه میاشت به هره ورځ به نیمه

سپاره لولی ددې سره به هره ورځ اته مخه حفظ د اولی حصی دسورة الناس نه ترسورة العنکبوت پوری یادوي.

(۸) : اوس اولنو لسو سپاروته انتقال وکړی د دوردیادولو دپاره یعني دریمی حصی ته د سُوۡرَة التوبه نه تر سُوۡرَة البقرة پوری د یوي میاشت پوری هره ورځ نیمه سپاره سره د یوی سپارې پوری د سُوۡرَة الناس نه د سُوۡرَة یونس پوری .

سوال:کله چې دادورپوره کړم ،نو دَمکمل قرآن دوربه څنګه کوم ؟

جواب: د مکمل قرآن دوربه خپله طریقه شروع کړي چې دوه۲ سپاری به په ورځ کښې دری ۳ځله تلاوة کوي اوپه دی طریقه باندې به ټول قرآن په دوه۲ هفتو کښې یوځل دور کښې دا طریقه پوره یو کال اوکړه او په دې طریقه باندې به ته مکمل قرآن په ښه طریقه حفظ کښې .

سوال: زۀ به یوکال د قرآن د حفظ نه روسته څه کوم ؟

جواب:د قرأن د ښه یادولواودورنه روسته به ته هره ورځ یومنزل اړوي چې ترمرګه پوري به ستانه قرأن هیرنه شي داده صحابه کرام رضی الله عنهم منزل وو صحابه کرامو رضی الله عنهم قرآن اووه منزله کړے ؤ یعنی په هراووۀ ورځو کښې به ئی قرآن ختمولو، اَوس بِنِ حذَیفَه رحمه الله فرمائی

:چې ماد نبی علیه السلام دَ صحابه کرام رضی الله عنهم نه تپوس او کړو
چې تاسو به څنګه قرآن منزلونه کولو هغوئ وفرمائیل دری۳ سورتو نه او
اووهٔ۷سورتو نه او نهه۹سورتو نه او یولس۱۱سورتو نه او دیارلس۱۳ سورتو نه
او مفصَّل منزل د سُوْرَۃ (ق) نه تر آخره پوری (روه احمد)

یعنی په اوله ورځ کښې به: دَ سُوْرَۃ فاتحه نه تر سُوْرَۃ النساء پوری اولولی .

او په دویمه ورځ به: دَ سُوْرَۃ المائدۃ نه تر سُوْرَۃ التوبه پوری اولولی .

او په دریمه ورځ به : دَ سُوْرَۃ یونس نه تر سُوْرَۃ النحل پوری اولولی.

او په څلورمه ورځ به: دَ سُوْرَۃ الاسراء نه تراخردَ سُوْرَۃ الفرقان پوری اولولی .

او په پنځمه ورځ به : دَ سُوْرَۃ الشعراء نه تر سُوْرَۃ یٰس پوری اولولی .

او په شپږمه ورځ به: دَ سُوْرَۃ الصَّافات نه تر اخر دَ سُوْرَۃ الحجرات پوری اولولی .

اوپه اوومه ورځ به: دَ سُوْرَۃ (ق) نه تر آخر دَ سُوْرَۃ النَّاس پوری اولولی .

دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم منزل علماء په دی قول کښې جمعه کړے دے (فَمِی بِشَوق) هر حرف ددې دوه کلمو نه جوړ شوے دے چې د

صحابه رضی الله عنهم ابتداء د منزل به په هره ورځ کښې ددينه وه نو حرف الفاء دهغوئ په دې قول باندې چې (فمی) دے اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په اوله ورځ کښې** د سُوْرَة الفاتحه نه وه او حرفِ ميم په دی قول دهغوئ باندې (فمی)اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په دويمه ورځ کښې** د سُوْرَة المائدة نه وه او حرف الياء په قول دهغوئ باندې (فمی) اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په دريمه ورځ کښې** د سُوْرَة يونس نه وه او حرف الباء په قول ده هغوئ باندې (بشوق) اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په څلورمه ورځ کښې** ده سورة بنی اسرائيل نه وه او سُوْرَة الاسراء ورته هم وائی او حرف (شين) په قول د هغوئ باندې (بشوق) اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په پنځمه ورځ کښې** دَ سُوْرَة الشعراء نه وه، او حرف (الواو) په قول د هغوئ باندې (بشوق) اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په شپږمه ورځ کښې** د سُوْرَة الصَّافات نه وه او حرف (القاف) په قول دهغوئ باندې (بشوق)اشاره ده چې دهغوئ د منزل شروع به **په اوومه ورځ کښې** د سورة (ق) نه تر آخره د سُوْرَة الناس پوری وه اوهر چې او سنے منزل دے نو داده حجاج بن يوسف ايجاد دے.

سوال: د قرآن د متشابهاتو په مابین کښې به څنګه فرق کوم؟

جواب: بهترینه طریقه داده چه کله تأته متشابه په دوو ایتونو کښې راشی نو قرآن به ددغه دوو۲ ایتونو دپاره کولاو کړې او بیا به او ګوري چې څه فرق دے په مابین ددی دواړو کښې او په فکرسره د خپل ځان دپاره یوه ظأبطه کیږده او د تلاوة په منځ کښې ددې فرق نه بار بار ځان خبرکړه تردی پورې چې متشابه بلکل پوخ یاد شی.

د عجمو دپاره د قرأن کریم د حفظ بهترینه طریقه

داسې کسان چې د هغوڅ به عربي نه ده د هغو دپاره د قرأ ن د حفظ دپاره ښې طریقې په درې مرحلو باندې مشتملې دې:

الف: - - - د قرأن حکیم د لوستلونه مخکښې حروفِ تهجي زده کول، په دې مرحلې کښې د څه فائده مندې ابتدائي قاعدې انتخاب کول او په پوره اهتمام سره دا کوشش کول چې بچې د حروفو ښه ادا کول او د پیژندلو قابل شې.

ب: - - - په دویمه مرحله کښې د حرفونود اجزاء پیژندل د کلمود جوړولو مشق کول تردې پورې چې بچې حرفونه او حرکتونه صحیح ادا کولوسره د ناظرې د قرأن وئیلو قابل شې د ناظرې شروع د ې د مختصرسورتونونه وشې.

ج: . . . په دریمه مرحله کښې د قراٰن حفظ طرف ته متوجّه کیدل اوددې دپاره ددغه طریقونه که هرقسمه طریقه اختیارکړےشي ،نوصحیح ده۔

۱ ۔ ادب :بله خبره داده چې طالب العلم لره پکارده چې دا د خپلواستاذانوسره مشوره وکړي ویلي شوي دي مَن شَاوَرَاَهلَ النَّصِیحَةِ ،سَلِمَ مِنَ الفَضِیحَةِ چاچې مشوره کړےده هغه الله سُبُحَانَهُ وَتَعَالیٰ د شرمولونه بچ کړےدے۔

۲۔ ادب: داستاذ په منتخب کولوکښې د الله سُبُحَانَهُ وَتَعَالیٰ سره استخاره کول ۔

مثلاً صحیح عقیده :داخبره ډیره ضروري ده چې د استاد عقیده به د توحیدوي خدانخواسته که عقیده خرابه وې نوپه دې علم کښې به هیڅ خیرنه وي۔

۳۔ادب: علمي مهارت به ئې هم وي۔

۴۔ادب:استادبه داسي وي چي په معلوماتومنتقل کولوباندي به قادره هم وي۔

۵۔ادب: دقراٰن کریم حافظ به هم وي اویاد به ورته هم وي د اهلِ علموپه نزدباندې به ددې علمي پیژندګلوهم وي۔

## قواعد او ضوابط په حفظ کښې

(۱) پکار ده چې ته خپل حفظ استاذ ته واوروي د تلاوة د صحیح کولو دپاره.

(۲) هره ورځ دوه مخه یادوه نیم مخه د سحر نه روسته ،او بل مخ روسته د مازیګر نه یا روسته د ماښام نه یادوه ، نو په دی طریقه باندی به ټول قرآن په یو کال کښې مظبوط یادکړي نوروسته حفظ به مظبوط شی ، او هر کله چې در باندی حفظ زیات شی نو ستا حفظ به کمزوری شی .

(۳) حفظ د سورة الناس نه تر سُوْرَة بقرة پورې ډیر اسان وی او د حفظ د قرآن نه روسته به ستا دور د سُوْرَة بقرة نه تر سُوْرَة الناس پوری وی .

(۴) حفظ به په یو چاپ قرآن کښې وی ددې دپاره چې حفظ مظبوط یا د شی او بل دا چې جلد یاد شی اوبل داچې د ایاتونو ځایونه او د صفحو آخر اواوّل بهٔ په ذهن کښې وی.

(۵) هر هغه څوک چې حفظ د قرآن کوی په اولنو دوه کلونو کښې نو په هغه باندی حفظ ګڼوډیکی او دیته (مَرحَلَة التَّجمِیع) وائې .

نو ته په دې ګډوډوالي د قرآن اوپه ډیرو خطاګانو باندې مه غمژن کیږهٔ او دا مرحله ډیره ګرانه ده،اوشیطان د ازمائش لپاره په دیکښې پوره حصه ده، هسې نه چې تا د قرآن د یادولو نه منع کړی، نو دا وسوسی

**پریږده او همیشه په خپل حفظ کښې مشغول وسۀ ځکه چې دا یوه لویه خزانه ده هر چاته نه میلاویږی .**

**خبردارے : پکار داده چې دا کارږ په قرآن کښې پروت وی په جیب کښې نوی ځکه انسان کله بیت الخلاء ته ځی .**

**تقبل الله منا ولوالدیَّ وللمومنِینَ یوم یقوم الحساب**

**کاتب الشیخ رضاءالله بن الحاج خان بادشاه**

مؤلف کے دیگر تالیفات

1۔کتاب الحجامة پښتو .................... مطبوع

2۔حوارات المسلم عربی .................... مطبوع

3۔حوارات النسوة عربی .................... مطبوع

4۔حوارات ابناء الاسلام .................... غیر مطبوع

5۔حوارات بنات الاسلام عربی .................. مطبوع

6۔حدیقة المسلم عربی .................... غیر مطبوع

7۔حدیقة النسوة عربی .................... غیر مطبوع

8۔تذکرۃ بیاد شیخ اردو ........................ مطبوع

9۔اتحادالامت پښتو ........................غیرمطبوع

10۔معارف الاحوال لاصلاح عمل الاطفال پښتو . مطبوع

11۔اسان اصول فقه پښتو .................. غیرمطبوع

12۔لغة الاطفال عربي ........................ غیرمطبوع

13۔میزان الصرف عربي ........................۔۔ مطبوع

14۔صرف بهائی عربي ........................غیرمطبوع

15۔مه غمژن کیګه ........................غیرمطبوع

16۔اسلامی نغمے پښتو .................. غیرمطبوع

17۔دعوت الی الله ------------------------غیرمطبوع

18۔روضة الاطفال ------------------------------مطبوع

19۔پښتو ترجمه اسان مونځ ----------------مطبوع

20۔ماحکم المیراث فی الاسلام ---------------مطبوع

21۔اَلْمُکَالَمَةُ بَیْنَ یَدَیکَ ---------------غیرمطبوع

22۔اسانه طریقه دقرآن مجید دحفظ---------- غیرمطبوع

23۔علم القرآن ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

24۔اهل القرآن ورجال القرآن۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ غیر مطبوع

25۔پرسکون گھرانه اورحقوق نسواں۔۔۔۔۔۔۔ غیر مطبوع

26۔المکالمه بین النساء ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

27۔څلویښت دعاګانی او څلویښت حدیثونه ۔۔۔۔۔۔مطبوع

28۔عظمت قرآن بزبان قرآن ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

29۔الجرح والتعدیل وظوابط التحقیق والتخریج ۔۔۔۔غیر مطبوع

30۔اصول الحدیث فی حدیث الرسول ۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

31۔توحید باری تعالیٰ سے متعلقه شکوک وشبہات کاازاله۔ غیر مطبوع

32۔پښتو ترجمه رہنمائے اساتذه مطالعۂ قرآنِ حکیم ۔۔غیر مطبوع

33۔پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد اول ۔۔غیر مطبوع

34۔پښتو ترجمه مطالعۂ قرآنِ حکیم جلد دویم۔ غیر مطبوع

35۔پښتو ترجمه خیرالاصول فی حدیث الرسول ۔۔۔مطبوع

36۔فتنوں مؤمن کا کردار ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

37۔نورالقرآن ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔غیر مطبوع

38۔فکری منصوبی۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ غیر مطبوع